DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۴۲

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU

لسم کال - دویمه دوره، ۷۴۲ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۰۹ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د وري ۱۲ مه - د پنجشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الثاني ۱۵ مه ۲۰۱۰ د اپریل لومړۍ

د روغتیايي چاروالمانی کارپوه:

په افغانستان کې دتپي شوو الماني سرتېرو تپونه نه رغېږي

يو المانې کارپوه ورمه ورځ خبر ورکړ، چې د میکروبو داسې يو خطرناک ډول يې موندلی دی، چې په افغانستان کې د تپي شوو المانې سرتېرو تپونه رغېدو ته نه پرېږدي.

پروفیسور یرورګن هیسیمان له یوې آلمانې رسنۍ سره په خبرو کې زیاته کړه: له همدې امله، موږ د تپونو په عملیاتو کې له ستونزو سره مخ یو.

هیسیمان خرګندوي: المانې سرتېرې ځینې وخت له داسې ناوړه او سخت حالت سره مخ کېږي، چې درملنه يې نوره ناشونې ثابته شي او لامل يې

۳مخ

کاناډايي سرتېري به په افغانستان کې پاتې نه شي

کاناډايي چارواکو يو ځل بیا دا امریکا داغوښتنه رد کړه، چې خپل سرتېري په افغانستان کې تر دوه زره یوولسم کال وروسته هم وساتي. دا نوې خبره نه ده چې امریکا د پردې شاته له کاناډا غواړي، چې په افغانستان کې خپل ماموریت ته دوام ورکړي، خو دا نوې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیره په خپلو مرکو کې دا مساله یادوي.

"دا په کاناډا پورې ترلې ده، چې خپل مسیر تعین کړي، خو دا هم ښکاره ده، چې موږ هیله من یو، چې یو ډول ارتباط او دوامداره ملاتړ وي". د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې بیا مساله مشخصه کړه او د کاناډا سي، تي، وي تلویزیون ته يې وویل: «پوځي ځواکونه کولای شي، چې د جګړې پرځای د روزنې مسالې ته پام واړوي، یا د دې پرځای چې په اوله کرښه کې جګړه وکړي، لوژیستکي ملاتړ ته ورا وراندې شي". تر دې مرکې څو ساعته وروسته د کاناډا حکومت خپل دریځ روښانه کړ. د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر لارنس کا پرون هم مساله یاده کړه: «اجازه راکړئ، چې یو ځل بیا په ښکاره ووایم. زموږ پوځي ماموریت په دوه زره یوولسم کال کې پای ته رسېږي.»

وروسته تر دې چې د هیلري کلنټن مرکه خپره شوه

۳مخ

ولسی جرګه قانون انتخابات را رد کرد



ولسی جرگۀ کشور فرمان تقنینی انتخابات را که توسط رییس جمهور کرزی توشیح شده بود، رد نمود.

مجلس نماینده گان دیروز چهار شنبه در جلسۀ عمومی خود با توافق آراء، فرمان تقنینی انتخابات را که حامد کرزی در زمان تعطیلی پارلمان توشیح نموده بود، به دلیل مساعد نبودن آن با شرایط کنونی، رد کرد.

صالح محمد سلجوقی، نایب منشی ولسی جرگه می‌گوید: "تفاوت‌های بسیار کلان وقتی که میان هر دو فرمان تقنینی مقایسه شد، دیده شد که فرمان تقنینی‌یی که قبلا در این مملکت انجام شده است و همین اکنون نیز وجود دارد، عملی می‌شود، از نظر عملی مساعدتر است، حسب شرایطی که در کشور وجود دارد".

انتخابات های گذشته بر اساس فرمان تقنینی برگزار شد. انتخابات گذشتۀ ریاست جمهوری در کشور باعث تنش‌های زیادی گردید و بسیاری‌ها به تغییر قانون انتخابات تاکید کردند. با این وجود، با رد شدن فرمان تقنینی جدید کرزی، انتخابات براساس قانون گذشته، برگزار خواهد شد.

از یک طرف، شرایط نسبتا سختتری برای نامزدان در فرمان تقنینی جدید در نظر گرفته شده بود و از جانب دیگر، تعدیلاتی که نماینده گان مجلس قبلا خواستار شده بودند، در فرمان تقنینی جدید دیده نمی‌شد.

همچنان حذف نمودن نماینده گان بین‌المللی از کمیسیون سمع شکایت‌های انتخاباتی، دیگر دلیل رد شدن این قانون از سوی ولسی جرگه خوانده شده است.

حامد کرزی طی آنچه وی "افغانی" ساختن روند انتخابات می‌نامد، کوشش کرد، اعضای بین‌المللی کمیسیون رسیده گی به شکایت‌های انتخاباتی را حذف کند. این مسأله، باعث واکنش‌های بین‌المللی و داخلی گردید.

سلجوقی: "بیشتر صحبت‌ها بر این متمرکز بود که اول کمیسیون سمع شکایات نیاز به نظارت بین‌المللی دارد، دوم نبودن مواصفات کافی برای کسانی که می‌خواهند، خود را به ولسی جرگه که مرکز قانون‌گذاری است، کاندید بکنند".

ص۴

اسغر ستانکزي په ۱۵۱ منډو افغان ریکارډ ټینګ کړ

په کویت کې د اسیا د کریکټ شورا د غوره هېوادونو د سیالیو یا ایلیټ ټرافي لومړنی ورځ له جنجالونو ډکه وه.

د سیالیو تنظیموونکي ونه توانېدل، چې له وړاندې اعلان شوي مهالوېش سره سم لوبې وکړي.

افغانستان باید له بحرین سره لوبه کړې وای، خو ورته مخامخ بوټان شو. د دغه توپیر لوی علت د کویټ د بهرنیو چارو د وزارت له خوا لوبغاړو ته د ویزو په ورکړه کې ستونزې وې. د بحرین د لوبډلې ګڼ شمېر لوبغاړي لا تر اوسه په دې نه دي توانېدلي، چې د کویت ویزه ترلاسه کړي. د افغانستان ستوری او مرستیال کپتان نبي عیسی خېل هم په همدې ډله کې لا تر اوسه په کابل کې پاتې دی او ویزه نه لري.

خو افغان لوبغاړو چې له بوټان سره لوبې ته زړه ښه کړ او بوټاني کپتان د پېچې له ګټلو وروسته د منډو بلنه ورکړه، شاید دوی هم حیرانه شوي وي، چې تر دې اسانه لوبه بله نه شته.

د کریم صادق او نور علي ځدران له خوا د افغانستان د منډو پیلامه وشوه.

۳مخ

په مورنۍ ژبه زده کړه او شته خندونه

۲

افغانستان په نړۍ کې د چرسو ستر تولیدوونکی هېواد اعلان شو

ملګري ملتونه وایي، چې تر اپینو وروسته، افغانستان په نړۍ کې د چرسو تر ټولو لوی تولیدوونکی هېواد هم دی.

د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو پر ضد اداري (یو اېن او ډي سي) د وري پر ۱۱مه، په خپل یوه تازه راپور کې ویلي، چې دغه بوټی د افغانستان له ۳۴ څخه په ۱۷ ولایتونو کې کرل کېږي.

په کابل کې د ملګرو ملتونو دفتر (یوناما) له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې هر کال په افغانستان کې د ۱۰ زرو او ۲۴ زرو ترمنځ هتکاره ځمکه د چرسو بوټی کرل کېږي.

په خبرپاڼه کې راغلي دي، چې په اټکلیز ډول هر کال په افغانستان کې ۳۵۰۰ ټنه چرس تولیدېږي، چې د نړۍ په کچه تر ټولو لوی تولیدوونکی هېواد دی.

د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو پر ضد یادې شوې اداري ویلي، چې دغه سروې او راپور یې د افغانستان د ۲۰ ولایتونو له ۱۲۳۴ کلیو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو پربنسټ جوړ کړی دی.

په یاد شوي راپور کې راغلي دي، چې که څه هم د چرسو بوټی نه حاصلات ورکوي، خو اوس هم کوکنار د افغان کروندګرو د خوښې

۳مخ

رومانیا ۵۰ تنه غیرقانوني افغان پناه غوښتونکي ونیول

د رومانیا سرحدي پولیسو د پنځلسو ماشومانو په شمول پنځوس افغانان د سرکې د وړلو په یوه تانکر کې ونیول، چې غوښتل یې په غیرقانوني ډول هنګري ته واوړي.

له بخارست څخه د فرانس پرېس اژانس د راپور له مخې چارواکو وویل، چې پولیسود تلاشۍ پر مهال تانکر په یوې خاصې الې چک کړ، چې د زړه دربا یې واورېده.

د پولیسو په وینا تانکر پر دوو برخو وېشل شوی و، په یوه کې یې سرکه بار و او په بله کې د غیرقانوني پناه غوښتونکو لپاره چوکۍ اېښوول شوې وې.

دوی وایي په دغو پنځوسو افغانانو کې ۲۸ سړي، اووه ښځې او پنځلس ماشومان دي.

دې کسانو غوښتل چې ایټالیا ته لاړ شي او هماغته کار پیدا کړي.

۳مخ

امیر البحر مایک مولن:

له ایران څخه کندهار ته په زیاته اندازه وسلې راوړل شوي

ایران د مخالفینو د ورتیاوو د لوړولو هڅه کوي

د امریکا د متحدو ایالاتو د دفاع وزارت لوی درستیز وایي، دوی ته داسې راپورنه رسېدلي، چې په کندهار کې ترپیلېدونکو پراخو عملیاتو مخکې ایران د افغان دولت له مخالفینو سره پوځي مرستې کړې دي.

د امریکا د متحدو ایالاتود دفاع وزارت لوی درستیز امیرالبهر مایک مولن دغه څرګندونې د چهارشنبې په ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وکړې: زه ستاسو له پوښتنې سره موافق یم، چې ایران هڅه کوي په سیمه کې خپل نفوس پراخه کړي، له یوې خوا دا د حیرانتیا خبره نه ده، ځکه ایران یوګاونډی هېواد دی، خو له بل لوري، چې زه یې ګورم، دا هڅې منفي اغېزې لري.

ورمه شپه ما ته وویل شول، چې له ایران څخه کندهار ته په زیاته اندازه وسلې راوړل شوي.

ما په تېرو څو کلونو کې لیدلي، چې ایران د مخالفینو د ورتیاوو د لوړولو هڅه کوي، خو زما لپاره دا هم د اندېښنې وړ خبره ده، چې د خپل نفوس په پراخولو د ایران هیله زیاتېږي".

۳مخ

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

تلفات روزافزون قوای ناتو

سال گذشته زمانی که جنرال مک کریستال فرماندهٔ عمومی قوای ناتو پیشنهاد ۷۰ صفحه یی خویش را در بارهٔ افغانستان به قصر سفید ارایه کرد، ضمناً تقاضای ۳۰ هزار عسکر بیشتر را نیز نمود که این پیشنهاد جنرال کریستال هفته ها و ماه ها مانند توپ فوتبال در دفاتر مشاوران نظامی، سیاسی و اقتصادی به شمول دفتر بارک اوباما رییس جمهور امریکا، از یک میز به میز دیگر شوت می گردید، ولی به هدف اصابت نمی کرد. بالاخره بعد از گذشت ماه ها، ریفری میدان یعنی (سی. آی. ای) بدون در نظر داشت، عواقب این گیم، پنالتی را اعلام کرد، تا هر دوتیم یعنی تیم طرفدار اعزام عساکر و تیم مخالف، با استفاده از وقت اضافی هر کدام پنج پنج گول را به دروازهٔ حریف شوت نمایند، تا توپ های هر تیم که زیادتر به دروازهٔ حریف اصابت نماید، همان تیم برنده اعلام می شود. سرانجام این بازی نظامی که عواقبش را ناعاقبت اندیشان قصر سفید به صورت واقعبینانه پیش بینی نکرده بودند، بازی را به نفع تیم طرفدار اعزام عساکر، اعلان نمودند. همان بود که به خاطر رضایت خاطر آقای کریستال، قصر سفید مصمم برآن شد، تا از جملهٔ عساکر پیشنهاد شده، یک تعداد محدود آن را به افغانستان اعزام نماید، تا به این طریق بتواند، خاطر ناآرام جنرال کریستال را آرام سازد.

ولی بعضی کار شناسان نظامی و کسانی که در سرزمین افغانستان تجربهٔ طولانی داشتند، از همان آغاز این تصمیم، مخالفت خویش را مبنی بر اعزام قوای بیشتر به افغانستان ابراز نموده و این اقدام را موثر و کارا تلقی نکردند. ولی تصمیم، تصمیم " بیگ باس" بود که باید به هر صورت جامهٔ عمل می پوشید. با گذشت چند ماه از اعزام عساکر، آقای کریستال عملیات ظاهراً نمایشی را در بعضی جا ها بخصوص شهر کوچک مارجه به راه انداخت که به قول معروف :" از دردش کرده پندیده گی " آن زیاد بود.

بعد از سپری شدن چند ماه اکنون مشاوران و دولتمردان امریکا به این نتیجه رسیده اند که تصمیم شان در آن هنگام مبنی بر اعزام عساکر بیشتر به افغانستان، یک اقدام مثبت نبوده، چنانکه امیر البحر مایک مولن لوی درستیز امریکا طی صحبتی با خبرگزاری اسوشیتدپرس اذعان نموده است که :" روز های سختی را پیشرو داریم که باید خود را آماده سازیم". از جانب دیگر، سناتور روباکر طی صحبتی گفته است:" اعزام عساکر زیاد باعث تلفات بیشتر می گردد، من از ابتدا مخالف اعزام سی هزار عسکر به افغانستان بودم که اعزام عساکر بیشتر نتیجهٔ موثر نخواهد داشت، به نظر من، به عوض فعالیت های نظامی باید کار از طبقهٔ تحتانی از قبیل مردمان قومی و قبایلی صورت گیرد و مصارفی که دربخش نظامی به مصرف می رسد، این همه هزینه در ساختار و باز سازی افغانستان به کار گرفته شود."

همچنان مارک سدول نمایندهٔ ملکی ناتو در افغانستان، به این نظر است که چالش فعلی افغانستان، ناشی از آن است که توازن میان بخش نظامی و ملکی به صورت مناسب در نظر گرفته نشده است، سوال بزرگی در میان کشورهای ناتو ایجاد شده است که آیا ما در این ماموریت کامیاب خواهیم شد؟ همچنان افکار عامه این سوال را مطرح می نماید که ما چرا پیروز نمی شویم؟

با درنظرداشت این نظریات، ارقام و احصاییه هایی که در روز نامه های معتبر غربی به چاپ رسیده، نمایانگر این حقیقت است که رقم تلفات قوای امریکا در سه ماه سال روان میلادی نظر به سه ماه سال گذشته، دو برابر و تعداد زخمیان آن سه برابرافزایش یافته است.

چنانکه قرار اظهارات وزارت دفاع ملی امریکا ۵۸ سرباز آنکشور در ماه جنوری و فبروی امسال کشته شدند، در حالی که در همین دو ماه، سال گذشته ۲۸ نفر کشته شده بودند. این همه اسناد وشواهد می رساند که اعزام قوای بیشتر به افغانستان، یک اقدام موثر نبوده است.

کارشناسان امور نظامی افغان و جامعهٔ جهانی به این نظر اند، تا امریکا در قسمت استراتیژی نظامی در افغانستان تجدید نظر نموده و به سخنان جنرالان و نظامیان بی تجربه گوش فرا ندهد و به جای برنامه های نظامی، راهکار هایی را که جنبهٔ صلح و آشتی داشته و باعث رفاه همه گانی می شود که خواست مردم این کشور نیز است، به کار گیرد، تا از یک طرف از تلفات قوای ناتو جلوگیری به عمل آید و از طرف دیگر، مردم این سرزمین به آرامی و صلح و صفا زنده گی نمایند.

په مورنۍ ژبه زده کړه او شته خندونه

احمد اریوزی

نوی تعلیمي کال د هېواد په زیاترو سیمو کې پیل شو. په میلیونو زده کوونکي په ډېره مینه او شوق سره د ښوونځیو په لوري روان دي اوس په ښوونځیو کې د ښوونکي او کتابونو ستونزې نه شته او که وي د پخوا په اندازه نه دي، یوه زیاته اندازه ښوونځي ودانۍ لري، خو بیا هم ډېر شمېر ښوونځیو کې زده کوونکي یا په کېږدیو او یا په ازاده هوا کې لوست کوي.

د یادونې وړ ده، چې په دې لاره کې د پوهنې چارواکو، د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې په مرسته یو لړ لیدنې وړ مهم بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي. خو بیا هم زیات هاند او هڅو ته اړتیا ده. د نورو ستونزو په اړخ کې یوه مهمه ستونزه دا ده چې د هېواد په سلګونو زرو او ښایي په میلیونو ماشومانو تر اوسه دا حق نه دی تر لاسه کړی، چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي، چې دا ستونزه په هېواد کې د سالمې او باکیفیته پوهنې په لاره کې یو لوی خنډ دی.

دا څو کاله کېږي، چې په افغانستان کې په مورنۍ ژبه د زده کړې ورځ، د خانګړو مراسمو په ترڅ کې لمانځل کېږي، په دې مراسمو کې د پوهنې چارواکي د افغانستان په اساسي قانون کې په مورنۍ ژبه د هر زده کوونکي د حق په هکله خبرې کوي، دوی ژمنې ورکوي چې په دې لاره کې به وړ هڅې وکړي. له بلې خوا په نومورو غونډو کې ویناوال له حکومت څخه غواړي، چې د دوی ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړې زمینه برابره کړي.

که څه هم د افغانستان د پوهنې وزارت د افغانستان د تنکیو ماشومانو لپاره په مورنۍ ژبه باندې د لوست د تحقق لپاره په دې وروستیو کې پر کار پیل او یو شمېر ګامونه یې پورته کړي دي، چې د ستاینې دي او خلکو هم د پوهنې وزارت د دې اقدام درومد هرکلی کړی، مګر دا ستونزه یوازې د کابل په ښار او ولایت کې موجوده نه وه، بلکې دا ستونزه د هېواد په ډېرو سیمو (په عمده توګه د هېواد په شمال او لوېدیز، کې موجوده ده، نو ځکه دا ګامونه ډېر لږ شمېرل کېږي، نو ځکه خلک د پوهنې له چارواکو غواړي، چې په دې لاره کې لا نورې هلې ځلې وکړي او دا بهیر د هېواد ټولو برخو ته وغځول شي.

په هغو سیمو کې چې په مورنۍ ژبه د زده کړې بهیر په کې تر سره شوی نه دی، ډېر شمېر زده کوونکي له دې امله کړېږي. د هغوی استعدادونه وژل کېږي، په دې ډول هم د نومورو زده کوونکو راتلونکی له ستونزو سره مخامخ کېږي، بلکې د هېواد په پرمختګ هم منفي اغېزه کوي.

زیاته موده وشوه، چې په افغانستان کې اساسي قانون نافذ شوی دی او اړینه ده، چې د اساسي قانون د نورو موادو په اړخ کې د زده کوونکو لپاره په مورنۍ ژبه اصل هم تطبیق او د عمل جامه وراغوستل شي.

ښکاره خبره ده، چې په ولایتونو کې د پوهنې چارواکو د زده کوونکو پر دې حق باندې سترګې پټې او غوړونه یې پرې کانه کړې دي، دوی نه غواړي چې په دې لاره کې چې د دوی اساسي دنده ده، ځانونه سترې کړي، د دوی لپاره دا اهمیت نه لري، چې پر یوه تنکي ماشوم باندې چې په بله ژبه باندې لوست ورکول کېږي، ځومره کړاونه راځي. دوی لوست په دا ډول سره چې په مانا یې نه پوهېږي، د زده کوونکو په اصطلاح میخانیک زده کوي. هغه زده کوونکی چې لوست یې په مورنۍ ژبه نه وي، د نورو زده کوونکو په پرتله د ناتوانی او تیټوالي احساس کوي او ورو ورو د هغه استعداد وژل کېږي. ښوونکي زیار باسي چې پر نومورې ماشوم باندې په فشار راوړلو سره هغه دې ته اړ کړي، چې لوست زده کړي.

له ولسمشر څخه نیولې تر وزیر، معین، رییسانو او د ښوونځیو مدیرانو پورې ټول په دې پوهېږي، چې په مورنۍ ژبه زده کړه د هر ماشوم روا حق دی، چې د بشر د حقوقو په اعلامیه، د ماشومانو د حقوقو د کنوانسیون، یونیسف په لاربښونو کې ور باندې ټینګار شوی دی. په دې ډول د افغانستان اساسي قانون پر بنسټ د پوهنې چارواکي پر دې مکلف کړي، چې په افغانستان کې ټولو ماشومانو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې زمینه برابره کړي.

ښایي په هېواد کې داسې کسان موجود وي، چې نه غواړي په افغانستان کې څوک په مورنۍ ژبه زده کړې ۳مخ

کمک امریکا چه تأثیری در مبارزه با طالبان خواهد داشت؟

احسان پنجشیری

به دنبال سفر مقام های عالیرتبهٔ پاکستانی و مذاکره با مقام های کاخ سفید، وزیر خارجهٔ پاکستان از نتایج این سفر ابراز رضایت کرد. سفر وزیرخارجهٔ و رییس ارتش پاکستان به واشنگتن در مقطع حساس صورت گرفت که با توجه به روند جاری جنگ علیه شورشیان در دو سوی مرز افغانستان و پاکستان و ارادهٔ اسلام آباد و واشنگتن برای تقویت اتحاد منطقه یی برای مبارزه با افراطگرایی از اهمیت زیادی برخوردار است. روابط پاکستان و امریکا در سال های اخیر عمدتاً بر محور مبارزه با تروریزم و بدبینی های دو کشور در برابر همدیگر در این مورد همواره در نوسان بوده است. مقام های امریکایی پاکستان را یکی از متحدان استراتیژیک آن کشور در نبرد علیه افراطگرایی در منطقه می خواند و اکنون که این نبرد بعد تازه یی به خود گرفته و در واقع، نقطهٔ ثقل جنگ از افغانستان به آن سوی مرز انتقال یافته است، روابط دوجانبهٔ واشنگتن و اسلام آباد نیز، بیش از همیشه از اهمیت استراتیژیکی برخوردار شده است.

درحالی که پاکستان تولیدگر القاعده و طالبان بوده و مراکز آن در آن سوی مرز می باشد، اکنون این کشور به خاطر جلب کمک های بیشتر امریکا وعدهٔ همکاری را با واشنگتن داده است.

با رویکار آمدن دولت بارک اوباما در واشنگتن، ایالات متحدهٔ امریکا توجهٔ خود را بیش از پیش به مبارزه با طالبان و تروریزم در داخل پاکستان متمرکز کرد و همچنان درک نمودند مراکز، مدارس و قرارگاه های طالبان، القاعده و تروریزم در خاک پاکستان است، به همین منظور، دولت پاکستان را برای نابودی پناهگاه ها و مراکز آموزشی طالبان در مناطق شمال غربی آن کشور تحت فشار قرار داد. قبل از آن، دولت افغانستان به صورت مکرر از جامعهٔ جهانی و به خصوص امریکا خواسته بود، تا برای درهم کوبیدن مراکز اصلی شورشیان در آن سوی مرز در مناطق شمال غربی پاکستان، وارد عمل شود و پاکستان را وادار سازد، تا این مراکز پرورش تروریزم را نابود سازد. اما واشنگتن تا زمانی که جورج بوش رییس جمهور اسبق امریکا بر سر اقتدار بود، هیچ توجهی به این درخواست ها از خود نشان نداد. سرانجام با تغییر دولت در کاخ سفید، بارک اوباما در سیاست خارجی دولت خود، پاکستان را خط مقدم جنگ علیه شورشیان اعلام کرد. به دنبال افزایش فشارهای امریکا بر اسلام آباد و توأم شدن آن با گسترش آن حملات و فعالیت های شورشیان در شمال غرب آن کشور، دولت پاکستان نیز، با آغاز مبارزهٔ جدی تر، عملیات های گسترده یی را در درهٔ سوات و به دنبال آن در وزیرستان جنوبی و شمالی به راه انداخت. در جریان یک سال گذشته و حملات متقابل از سوی شورشیان طالبان و القاعده در واکنش به عملیات ارتش آن کشور، حملات انتحاری و بم گذاری در این کشور اوج گرفته و پاکستان دستخوش شدیدترین خشونت ها در تاریخ این کشور بوده است.

در این گیر و دار دولت پاکستان کوشیده است، تا کمک های بیشتر کشورهای غربی به خصوص امریکا را برای تقویت اقتصاد درهم شکستهٔ آن کشور به مبارزه علیه شورشیان جلب نماید. مقام های امریکایی و پاکستانی با ابراز خوشبینی در مورد این سفر و نتایج مذاکرات استراتیژیک میان دو کشور آن را تحول جدیدی در روابط دو کشور خوانده اند. این سفر از آنجا ص۳

رومانیا ۵۰ تنه غیرقانوني افغان پناه ...

ملتو لویې کمیشنرۍ وویل، چې په وروستي یوه کال کې د پناه غوښتونکو افغانانو شمیر په بې ساري ډول زیات شوی دی.

د ملګرو ملتود کډوالو د لویې کمیشنرۍ یوې ویاندې د سې شنبې په ورځ (مارچ۲۳) په جنیوا کې وویل، تېر کال شپږ ویشت زره اته سوه (۲۶۸۰۰) افغانانو د پناه غوښتنې کړې، چې د ورتېر کال په پرتله په سلو کې ۴۵ زیات دي. تېر کال (۲۰۰۸) اتلس زره پنځه سوه افغانانو د پناه غوښتنه کړې وه.

میلیسا فلیمینګ وویل، چې په افغانستان کې د جګړې دوام له خپل هېواده د افغانانو مهاجرت زیات کړی او اکثره افغانان د ځان ساتنې لپاره اروپا او نورو هېوادونو ته پناه وړي.

پر جګړې سربېره بد اقتصادي شرایط هم سبب شوي، چې افغانان د ژوندي پاتې کېدو لپاره د مرګ خطر ومني او نورو هېوادونو ته د رسېدو هڅه وکړي.

ملګروملتو ورمه ورځ وویل، چې له ۲۰۰۲ کاله تر ۲۰۰۹ پورې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې له ۳۵ میلیارد ډالري مرستې سره سره د افغانستان اکثره خلک په سخته بېوزلۍ کې ژوند کوي.

د ملګروملتو د بشري حقونو په راپور کې پر نړیوالې ټولنې هم نیوکه شوې، چې ډېر ټینګار او پام یې امنیت ته کړی او اوږدمهالو پرمختیایي چارو ته یې ډېره لږه توجه کړې ده.

د تاند وېبپاڼې د رپوټ له مخې، د نړیوالې ټولنې له لوري د افغانستان په نامه په پنځه دېرش زره میلیون ډالرو باندې یو بند، کانال یا بله داسې پروژه جوړه نه شوه، چې افغانان په کې کار او روزګار پیدا کړي او که نړیوالې مرستې ختمې شي، نو د افغانستان لپاره د عوایدو سرچینه وي.

په رومانیا کې د افغان پناه غوښتونکو د وړونکي ټانکر چلوونکي، چې د یونان تبعه دی، ویلي چې دی خبر نه و، چې په ټانکر کې څه شی بار شوي دي.

افغانستان په نړۍ کې د چرسو ستر ...

بوټی دی. د سرچینې د معلوماتو له مخې، چرس یو کیلوګرام په ۵۸ ډالره (نږدې درې زره افغانۍ) تمامېږي، چې د ټول تولید له مخې، هر کال په افغانستان کې د ۳۹ او ۹۴ میلیونه ډالرو په ارزښت چرس تولیدېږي. دا په داسې حال کې ده، چې د یادې شوې اداري د راپور له مخې، پر ۲۰۰۹ زېږدي کال افغانستان د ۴۳۸ میلیونه ډالرو په ارزښت اپین تولید کړي وو.

په خبرپاڼه کې راغلي دي، چې د چرسو بوټی هم د کوکنارو په څېر ډېرى د افغانستان په سوېل کې کرل کېږي.

خو په راپور کې راغلي دي، چې دغه بوټی پخوا په شمالي ولایتونو او په ځانګړې توګه په بلخ ولایت کې کرل کېده، خو د ځایي چارواکو د هلو ځلو په پایله کې دغه بوټی اوس په شمال کې ډېر کم شوی دی.

د پژواک د رپوټ له مخې، د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو پر ضد اداري (یو اېن او ډي سي) مشر انتونیو ماریا کوستا ویلي، چې د افغانستان د نشه یي توکو ستونزه ډېره کړکېچنه ده.

هغه زیاته کړې، چې د نشه یي توکو د کر او تولید مخه هغه مهال نیول کېدای شي، چې په هغو سیمو کې چې دا توکي کرل کېږي، هلته حکومتداري ځواکمنه او د بیارغونې کارونه ترسره شي.

کانادایي سرتېري به په افغانستان ...

پرون سهار د کانادا صدراعظم سټېفن هارپر د امریکا د بهرنیو چارو له وزیري سره وکتل، خو د کانادایي رسنیو په وینا په دې لیدنه کتنه کې هیلري کلنټن په افغانستان کې د کانادا د پوځي ماموریت د ادامې غوښتنه ونه کړه. خو بیا هم د کانادا صدراعظم وویل، چې د دوی ماموریت به په افغانستان کې را روان میلادي کال پای ته ورسېږي.

د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، سیاسي څېړونکي وایي، د دې لپاره چې په کانادا کې اکثریت په افغانستان کې له پوځي ماموریت سره مخالفت کوي، نو د کانادا حکومت نه غواړي، چې دغه ماموریت ته دوام ورکړي، اما کانادا دا هم نه شي کولای، چې د امریکا غوښتنې ته پام ونه کړي، نو ممکن خپل یو شمېر روزنکي د کندهار پر ځای د افغانستان په یوه بل ولایت کې وساتي.

اسغر ستانکزي په ۱۵۱ منډو افغان ...

کریم ۱۳۰ او نورعلي ۱۰۸ منډې وکړې او د لوی هدف بنسټ یې کېښود، خو د منډو چټکتیا هغه وخت ډېره شوه، چې اصغر ستانکزی ډګر ته راووت.

اصغر ۱۵۱ منډې وکړې او بوتان ته یې د ۴۷۲ نه ترلاسه کېدونکی هدف وټاکه.

افغانستان ټولې ۴۷۱ منډې وکړې او پنځه لوبغاړي یې وسوځېدل. که څه هم نبي نه شته، خو افغان بالران د دې جوګه دي، چې د بوتان لوبډله په اسانۍ ماته کړي.

د بي بي سي د رپوټ له مخې، د اصغر ستانکزي ۱۵۱ منډې په دې وروستیو کلونو کې په یو وروځنیو لوبو کې د کوم افغان لوبغاړي تر ټولو ډېرې دي، چې د افغانانو ریکارډ دی.

له ایران څخه کندهار ته په زیاته ...

تر دې د مخه هم د افغان دولت له مخالفینو سره د افغانستان دګاونډیو هېوادونو په ځانګړې ډول ایران د پوځي مرستو او مخالفینو سره د ایراني وسلو د موجودیت راپورنه ورکړل شوي دي.

ښاغلی مولن، چې اوسمهال په کابل کې دی، له افغان ولسمشر حامد کرزي سره یې هم کتلي او له افغان چارواکو سره یې افغانستان د د روانو حالاتو پر سر خبرې کړې دي.

د امریکا د متحدو ایالاتو د دفاع وزارت لوی درستیز د ازادی راډیو د هغې پوښتنې په ځواب کې، چې د کندهار عملیاتو خو به د سولې په ملي مشورتي جرګې منفي اغېز نه لري؟ وویل": په دغه سفر کې، چې زما کوم برداشت دی، هغه دا دی چې افغانستان تر راتلونکو له شپږو تر لسو میاشتو پورې مهمې پېښې په مخ کې لري، د سولې جرګه، د کابل کنفرانس، د ملي شورا انتخابات او د کندهار عملیات.

دا ټول هغه مهم مسایل دي، چې په راتلونکو میاشتو کې به تر سره شي، خو نه غواړم دا ووایم، چې دغه مسایل به یو بل اغېزمن کړي، د ولسمشر سره په خبرو کې په دې وپوهېدم، چې د سولې جرګه او دا نور مسایل د ستراتیژی یوه برخه ده، چې باید مثبتې پایلې ولري".

مایک مولن وړمه ورځ د هلمند له مارجې ولسوالۍ څخه هم لیدنه وکړه او د هلمند ولایت د سیمه ییزو چارواکو او د مارجې له اوسېدونکو سره یې د عملیاتو د پایلو او د شته ستونزو د هوارې په اړه هم خبرې وکړې.

د امریکا د دفاع وزارت د لوی درستیز په وینا امریکا د جګړې د اوږدولو لپواله نه ده، خو دا معلومه نه ده، چې دغه جګړه به څومره وخت ونیسي.

مایک مولن وویل، چې د کندهار په عملیاتو کې به د سیمه ییزو مشرانو، دغه شان د سیمه ییزو شوراګانو او جرګو د استازو د نظرونو دروناوی کېږي او دغه عملیات به د افغان ځواکونو په همکارۍ سره تر سره کېږي.

افغان او امریکایي ځواکونه په داسې حال کې په کندهار کې د پراخو پیلېدنکو عملیاتو په اړه خبرې کوي، چې د مارجې سیمه ییز چارواکي او اوسېدونکي چېرې چې په دې ورستیو کې د افغان او نړیوالو ځواکونو لوی پوځي عملیات تر سره شول، په بېلابېلو برخو کې د ستونزو او اسانتیاوو د نه موجودیت خبرې کوي.

کمک امریکا چه تأثیری در مبارزه با ...

اهمیت بیشتری می یابد که در آستانهٔ تحولات مهم منطقه یی صورت می گیرد. اکنون ده ها هزار سرباز امریکایی و ناتو در حال اعزام به افغانستان هستند و به گفتهٔ مقام های ناتو در سال جاری خورشیدی عملیات بزرگی در مناطق جنوبی اجراء خواهد شد و بنابرآن نبردهای شدیدی در راه خواهد بود. نبردهایی که به گفتهٔ مقام های امریکایی سرنوشت جنگ در افغانستان را به سمت سوی دیگر سوق خواهد داد. از سوی دیگر، نیروهای امنیتی پاکستان در جریان ماه های اخیر، تعدادی از مقام های عالیرتبهٔ طالبان را در خاک آن کشور دستگیر کردند و این اقدام پاکستان با تحسین و تمجید مضاعفی از سوی واشنگتن رو به رو شده است. این دستگیری ها علی رغم اینکه سوَ ظن ها و انتقاداتی را از سوی سازمان ملل و دولت افغانستان به دنبال داشته است، اما دولتمردان امریکایی از آن به عنوان اهرم فشار عمدهٔ علیه طالبان استقبال کردند.

از سوی دیگر، در برنامهٔ جدید مصالحهٔ ملی که از سوی افغانستان برای جذب شورشیان و آشتی با این گروه ها روی دست گرفته شده است، پاکستان تلاش کرده، تا وزنهٔ خودرا حفظ نماید و در روند صلح با شورشیان طالبان ابتکار عمل را در دست داشته باشد. به نظر می رسد، علی رغم نگرانی ها و بدبینی های دولت افغانستان، واشنگتن از ایفای چنین نقشی از سوی پاکستان استقبال می کند؛ چه آنکه امریکا در مورد نقش تأثیرگذار پاکستان در این روند متقاعد شده است. دستگیری های مقام های عالیرتبهٔ طالبان در پاکستان اکنون واشنگتن را بیشتر به تلاش های پاکستان در دستگیری رهبران طالبان و به صورت تشدید مبارزه علیه شورشیان امیدوار ساخته است.

از آنجایی که مبارزه علیه شورشیان طالب در دو سوی مرز، در واقع دو روی یک سکه محسوب می گردد، کمک های نظامی و غیرنظامی امریکا به پاکستان و در عین حال، افزایش فشارهای بیشتر بر آن کشور برای مبارزه علیه طالبان افغان در خاک آن کشور، طوری که در استراتیژی جدید دولت امریکا طراحی شده است، در روند مبارزه با طالبان در سال های آینده، نقش حیاتی خواهد داشت.

تردیدی وجود ندارد که نتایج استراتیژی جدید دولت امریکا که علاوه بر تمرکز نظامی و سیاسی در افغانستان، مبارزه علیه طالبان افغان و پاکستانی در داخل قلمرو پاکستان یکی از محورهای اصلی آن به شمار می رود، به تدریج در حال نتیجه دادن است. براساس این رویکرد امریکا در قبال پاکستان، اکنون جنگ علیه شورشیان در دوسوی مرز بیش از پیش تشدید شده و دورنمای بهتری در آیندهٔ جنگ به مشاهده می رسد.

به کی بګویم و کی ...

فعالیت دارند و هر کدام از این بانک ها، هزاران مشتری دارد و پول هایی که در بانک ها گذاشته شده است، بالاتر از نصاب است. اکنون اگر دولت یک ادارهٔ امین جمع آوری ذکات را مانند دوره های صدر اسلام به وجود بیاورد که زکات را از مالکان نصاب و سرمایه داران جمع آوری نماید و آن را در داخل یک چوکات به فقراء و مساکین توزیع نماید، به طور قطع فقر و محتاجی در جامعهٔ افغانی باقی نخواهد ماند؛ چونکه رسیده گی به احوال مردم، از وظیفهٔ دولت است، باید دولت اسلامی به وجایب خود، به درستی عمل نماید و گره از مشکل ناداران و فقیران بکشاید، در غیر آن، به الفاظ بازی کردن دردی را دوا نمی کند و مستمندی را به نوا نمی رساند.

و ما علینا الا البلاغ.

په مورنۍ ژبه زده کړه او شته ...

وکړي او له دې لارې دوی غواړي د وطن د زیات شمېر زده کوونکو روا حق تر پښو لاندې کړي.

مګر په مورنۍ ژبه زده کړه د خلکو غوښتنه او د ماشومانو طبعي، روا، قانوني حق دی او هغه څه چې د خلکو غوښتنه وي، د هغه مخنیوی کول یوه لویه جفا او له ماشوم سره ظلم دیاو د یوه لوی جرم په توګه ګڼل کېدای شي.

د هېواد ټول وګړي د قانون پر وړاندې د برابرو مسوولیتونو، وجایبو او حقوقو لرونکي دي. په اساسي قانون کې داسې نه دي راغلي، چې یوازې کومه ډله، توکم او یا د ژبې ویونکي له ټولو حقوقو څخه برخمن وي او نور دې د محرومو خلکو په توګه واوسېږي. له بده مرغه تر اوسه په یو شمېر سیمو کې زده کوونکي په خپله مورنۍ ژبه له زده کړو بې برخې ساتل شوي دي او تر اوسه په دې لاره کې خوراخدونه پراته دي.

دا اړینه ده چې د پوهنې چارواکي په تعلیمي بهیر کې د هېواد ټول زده کوونکي په نظر کې و نیسي، ترڅو د هر توکم د ژبې ویونکو زده کوونکو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړې زمینه برابره کړي. په دې ډول په هر ولایت کې د پوهنې چارواکي شته او دوی دې په هکله په اړونده ښوونځي کې وګوري، چې د دوی د زده کوونکي په کومه ژبه ګړېږي او له هغې سره سم ورته ښوونکي او کتابونه برابر کړي.

د ساري په توګه د افغانستان په شمال او لوېدیزو ولایتونو کې د مورنۍ ژبې زده کړو ته هېڅ پاملرنه نه ده شوې. ایا سیمه ییز چارواکي ړانده دي او نه ویني، چې په دې سیمو کې د مختلفو ژبو ویونکي اوسېږي.

دا ښکاره ده، چې د اساسي قانون د تطبیق په لاره کې د خنډونو پیدا کول اویا د هغه په تطبیق کې ناغېړي کول په خپله جرم دی. په دې ډول هغه چارواکي چې یا په مورنۍ ژبه د زده کړې مخنیوی کوي اویا ستړګې تړي پټوي او یا لتې کوي، باید د قانون له مخې مجرمان وګڼل شي. دا څکه چې دوی له یوې خوا د اساسي قانون پر وړاندې جرم کوي او د بلې خوا د دوی د دې ناوړه عمل له املې د ماشومانو استعدادونه وژني، چې د دا ستعداد وژل تر جسمي وژلو لوی جنایت دی.

په تېرو ټولو کلونو کې د افغانستان عدلي او قضایي ارګانونو تر اوسه په دې هکله د پوهنې او لوړو زده کړو پخوانیو او اوسنیو چارواکو څخه پوښتنه او ګروېرنه کړې نه ده، چې دا په خپله د اندېښنې وړ ده.

دا یو ښکاره حقیقت دی، چې په مورنۍ ژبه یو زده کوونکی د درس پر مفهوم پوهېږي او یاد ته یې سپاري. همدارنګه د ښوونکي لپاره هم دا اسانه وي چې زده کوونکی و پوهوي.

تجربو ښودلې ده، هغو زده کوونکو چې په لومړنیو ښوونځیو کې یې په بله ژبه زده کړه کړې ده، د هغوی استعدادونه د هغو زده کوونکو په تناسب چې په مورنۍ ژبه یې زده کړه کړې وي، لږ وده کوي او په پای کې دوی په ټولنه کې دومره اغېزمن رول نه شي لوبولی.

پوښتنه دا ده چې د پوهنې چارواکي ولې په ولایتونو کې اړوند ریاستونو ته لارښوونه نه کوي، چې ټولو زده کوونکو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې لپاره له قانون سره سم اجرات وکړي.

باید وویل شي، چې اوس ټول زده کوونکي او د هغوی مینداې او پلرونه په مورنۍ ژبه زده کړه غواړي. نو ځکه اړینه وه او ده چې کله یو ماشوم ښوونځي ته شاملېږي، باید دوی په خپله ژبه او د خپلې ژبې ټولګي ته ولېږل شي. همدارنګه په ښوونځیو کې تر دوولسمو ټولګیو پورې د ټولو زده کوونکو مورنۍ ژبه جوته او هغوی ته دې ببل ببل ټولګي جوړ کړي.

دا چې تېر کال یو شمېر زده کوونکو ته په کابل ښار کې په مورنۍ ژبه د زده کړې زمینې برابرې شوي، دا د دې سبب شوه چې زده کوونکي لوستونو ته ډېر وهڅېږي. دوی په ډېره اسانۍ سره لوستونه زده کړي. اوس زیاتره مینداې او پلرونه په دې باور شوي دي، چې په مورنۍ ژبه زده کړه ماشومانو ته څومره مهمه ده.

له بلې خوا اوسمهال ټولو رونړ اندو ته اړینه ده، چې په هېواد کې د ټولو ژبو ویونکو- زده کوونکو لپاره په مورنۍ ژبه د لوست او زده کړې لپاره چارواکي وهڅوي، چې په دې لاره کې لازم اجرات وکړي.

له دې سره په څنګ کې، په خپله د میندو او پلرونو مسوولیت دی، چې د ښوونځیو په اداره، د پوهنې په چارواکو فشار راوړي او بلاخره د افغانستان ولسمشر ته دا په ډاګه کړي، چې دوی د خپلو اولادونو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړو غوښتونکي دي.

باید ووایو، تر هغه چې د ټولو زده کوونکو لپاره په مورنۍ ژبه د زده کړې زمینه برابره شوې نه وي، تر هغه د لوړ کیفیت لرونکي ښوونه ناممکنه او ښه نتایج ترې نه شي تر لاسه کېدای.

په افغانستان کې دټپي شوو المانې سرتېرو ټیونه نه ...

همدا میکروب دی. نومورې زیاتوي: له ما سره کره شمېرې نه شته، چې څومره ټپي سرتېرې له دې میکروبه کړېږي.

د همدې المانې پروفیسور په وینا، له بلې خوا، د افغانستان جګړې، دغه سرتېرې له روانې او فزیکي پلوه دومره ځپلي، چې د همدې میکروب پر وړاندې مقاومت نه لري.

شورای امنیت و تصمیم تازهٔ تحریم‌ها علیه ایران

اوباما و سارکوزی اعلام کردند، که در برابر برنامهٔ اتومی ایران، سیاست کاملاً هماهنگ دارند؛ سران کشورهای امریکا و فرانسه، مجدداً خواهان تصویب تحریم‌های تازه علیه ایران شدند. به‌رغم تزلزل روسیه و مخالفت چین در این زمینه، کشورهای غربی امیدوار اند که در هفته‌های آینده، اکثریت اعضای شورای امنیت به سیاست مشترکی دست یابند.

بارک اوباما، رییس جمهور امریکا، ابراز امیدواری کرد که در هفته‌های آینده، تحریم‌های تازه علیه ایران به تصویب رسد. رییس جمهور امریکا تشدید تحریم‌ها در شورای امنیت سازمان ملل را راهکار مشترک آینده در مناقشهٔ اتومی خواند. اوباما تصریح کرد که هم‌اکنون توافق همه گانی بر سر تحریم‌ها در شورای امنیت وجود ندارد. اما امریکا به تلاش‌های خود برای دستیابی به یک خط مشی واحد در شورای امنیت همچنان ادامه خواهد داد.

اوباما در دیدار با نیکلا سارکوزی، همتای فرانسوی خود گفت: "امیدوارم که در آغاز سال میلادی جدید، موفق به تصویب تحریم‌ها شویم." رییس جمهور امریکا دربارهٔ زمان اخذ تصمیم افزود: "فکر می‌کنم، که در طی هفته‌های آینده موفق به برقراری این تحریم‌ها شویم."

نیکلا سارکوزی نیز ضمن پشتیبانی از سیاست واشنگتن گفت: "ایران باید از ادامهٔ سیاست دیوانه‌وار خود دست بر دارد. زمان تصمیم شورای امنیت برای تصویب تحریم‌های تازه علیه ایران فرا رسیده است."

سخنان اوباما و سارکوزی در کنفرانس مطبوعاتی نشان داد که مذاکرات وزیران خارجهٔ هشت کشور صنعتی در کانادا در هماهنگی کامل بر سر برنامهٔ اتومی ایران به پایان نرسیده است. به گفتهٔ دیپلوماتان شرکت‌کننده در اجلاس گروه هشت، سیاست قاطع کشورهای غربی علیه تهران هنوز نتوانسته است، سران کرملین را به طور کامل قانع کند.

گرچه هشت کشور مهم صنعتی جهان، امریکا، روسیه، جاپان، آلمان، بریتانیا، فرانسه، ایتالیا و کانادا نگرانی مشترک خود را پیرامون غنی‌سازی یورانیم در ایران اعلام کردند، اما روسیه خواهان برقراری تحریم‌های فوری علیه تهران نیست. به جز روسیه، چین به عنوان دارندهٔ حق ویتو در شورای امنیت نیز، با تصویب تحریم‌ها علیه جمهوری اسلامی مخالف است.

اوباما با توجه به عدم توافق کامل در اجلاس وزیران خارجهٔ هشت کشور به صراحت به مقاومت برخی کشورها در برابر تحریم اشاره کرد. به گفتهٔ رییس جمهور امریکا، جامعهٔ جهانی تا حدود زیادی به "تحریم‌های شدیدتر" نزدیک شده است، "اما هنوز راه دشواری پیشروی دارد." اوباما افزود: "باید صادقانه گفت که این امر بدان خاطر است که ایران صادر کنندهٔ نفت است." رییس جمهور امریکا تصریح کرد: "هنوز کشورهای فراوانی در جهان هستند که منافع اقتصادی‌شان مهمتر از منافع ژیوپولیتیک آن‌هاست."

سارکوزی پشتیبانی کامل دولت خود را از اقدامات تنبیهی علیه ایران یادآور شد. رییس جمهور فرانسه افزود: "ما تمامی تلاش‌های لازم را به کار خواهیم بست، تا مطمین شویم، اروپا به طور مشترک از اعمال تحریم‌ها حمایت می‌کند."

تا آخرین ساعات هنوز روشن نبود که اجلاس هشت کشور اصولاً موفق به انتشار بیانیه‌یی مشترک شود. اما پس از توافق کلی و بدون اشاره به تحریم های جدید، بیانیه‌یی پایانی صادر شد که در آن آمده است: "ما نگرانی جدی خود را پیرامون خطراتی ابراز می‌داریم که ناشی از گسترش برنامهٔ اتومی ایران است. ایران موظف به رعایت سریع و کامل تمام تعهدات بین‌المللی است."

سرگئی لاوروف، وزیر امورخارجهٔ روسیه، در پایان نشست اوتاوا گفت: "ما دربارهٔ ایران و برنامهٔ اتومی این کشور به تبادل نظر پرداختیم. در این زمینه، بحث و گفتگوهای سودمندی صورت گرفت. اما در غیبت چین، به عنوان همکار دیگرمان، پسندیده نبود که تصمیمی دربارهٔ ایران در اوتاوا اتخاذ شود."

ولسی جرګه قانون انتخابات ...

به گفتهٔ سلجوقی در نظر نگرفتن سطح تحصیلی برای نامزدان ریاست جمهوری و پارلمانی، دیگر کاستی فرمان تقنینی حامد کرزی بود: "برای کسانی که در شورای ولسوالی و ولایتی حداقل تحصیل صنف دوازده تسجیل شده، ولی متاسفانه برای شرایط کاندیدان محترم ولسی جرګهٔ شورای ملی و همچنین شورای ملی، اصلا بحثی به نام سواد حتا مطرح نشده بود".

این درحالی است که براساس قانون اساسی، نماینده گان نمی‌توانند، در سال اخیر کاری خود تعدیلاتی در قانون انتخابات وارد کنند.

اما سلجوقی در این مورد می‌گوید: " ما در یک سال اخیر تقنینی حقیقتا نمی‌توانیم، تعدیل پیشنهاد بکنیم به قانون انتخابات. اما این بحث تعدیل نبود، بحث یک فرمان تقنینی جدید بود که ما فرمان تقنینی دیگر (گذشته) را نیز داریم".

این درحالی است که روابط حکومت و پارلمان در یک سال گذشته، زیاد مناسب نبوده است. تعداد زیادی از وزیران پیشنهادی حامد کرزی در دو مرحله، توسط پارلمان رد گردیدند.

به کی بگویم و کی می شنود

الحاج محمد سالم دیانی

یک بار گفتیم و باز می گویم که فقر در افغانستان با وجود سرازیرشدن میلیاردها دالر کمک جامعهٔ بین المللی بیداد می کند و دولتمردان جمهوری اسلامی افغانستان در مقابله به آن احساس ناتوانی می کنند، حالانکه قرآن کریم رهنمودهایی را فرا روی ایشان قرارداده است که اگر آنها را عملی سازند، گره از مشکل فقراء و بینوایان را می گشاید، ولی به آنها توجهی نمی کنند و اسلام چنین دولتی را که به فقرا و مساکین توجهی نداشته باشد، آن را محکوم می کند. اسلام نمی تواند، قبول کند که یک تعداد خانواده ها مانند خانواده های وزراء و روسای مجلسین شورا و سنا و وکلا و دیگران از پول بیت المال امتیازات برتری داشته باشند و از خوراکه های رنگین و متنوع استفاده نمایند و دتعداد دیگری روزهٔ ماه مبارک رمضان را با نان خشک و چای تلخ که حتا قدرت خرید یک مقدار شکر را هم نداشته باشند، افطار نمایند؛ حالانکه در پول بیت المال فقرا و مساکین هم سهمی دارند که باید به ایشان پرداخته شود و از حال ایشان خبر گیری نمایند. ولی چشم بینا و گوش شنوا کجاست که نالهٔ فقراء و مساکین را بشنود و به حال زار بیچاره گان و درمانده گال رسیده گی نمایند و گره از مشکل ناداری شان را بکشایند. اگر مسوولان رده های بالای دولتی جمهوری اسلامی، پروگرام افطارهای ماه رمضان بعضی از خانواده های فقیر و نادار را که به عنوان مشت نمونهٔ خروار شام روز ۳۱ اگست ۲۰۰۹ میلادی و روزهای ما بعد آن که از طریق شبکهٔ جهانی تلویزیون آریانا افغانستان پخش می گردید، دیده باشند، باید و جداناً احساس ناراحتی نموده و فوراً در صدد چاره برآمده می بودند، ولی ما چیزی را در این زمینه مشاهده نکردیم و در این میانه تنها بنیاد خیریهٔ بیات است که به داد مردم نادار و ناتوان می رسد و اشک چشم بینوایان و فقیران را پاک می نماید و مقدار آرد و برنج و روغن و شکر و لباس و غیره را به ایشان توزیع می نماید، ولی مسوولان دولت جمهوری اسلامی به حال شان توجهی نمی نمایند پس مسوولیت این قشر فقیر و نادار به دوش کیست؟ آیا مسوولیت آن به دوش دولت نیست؟ اگر هست چرا دولت به وظیفهٔ خود عمل نمی کند.

تا گره از مشکل بیچاره گان را بکشایند. ما در تاریخ می خوانیم که در دوران خلافت حضرت عمر فاروق (رضی الله تعالی عنه) در شبه جزیرهٔ عربستان، قحطی رخ داده بود که آن را سال (ترماده) یعنی سال خاکباد نام داده بودند؛ خلیفه برای نجات مردم از گرسنه گی از مصر و دیگر جاها کمک خواسته بود و نانی که در مطبخ خلافت پخته می شد، حضرت عمر از همان نان تناول می کردند، تا مردم احساس نکنند که خلیفه در خانهٔ خود نان بهتر از این را می خورد، این است مردمداری و این است احساس مسوولیت وظیفه یی و اما خدا یار جان دولتمردان ما که چین بر آبرو نمی آورند و به حال فقراء و ناتوانان توجهی نمی کنند و چون غرق و تشنهٔ قدرت دولتی هستند، به مشورهٔ دیگران هم اعتنایی نمی کنند؛ چنانکه من در این رابطه، مضمونی را تحت عنوان فقر(در افغانستان بیداد می کند) نوشته و تذکر داده بودم که اگر دولتمردان به اساس رهنمودهای قرآنکریم زکات را جمع آوری و آن را در اختیار فقراء و مساکین قرار بدهند، فقر در افغانستان باقی نخواهد ماند و آن مقاله در شمارهٔ ۱۴۳۷ ماه قوس ۱۳۸۷ روزنامهٔ اراده چاپ کابل به نشر رسیده بود که به آن اهمیتی ندادند و یا اصلاً اهمیت خواندن آن را هم به خود نداده اند، لاجرم من در اول ماه سپتمبر ۲۰۰۸ میلادی نامه یی را عنوان آقای عظیمی رییس ستره محکمهٔ افغانستان نوشته و آن را راجستر نمودم، تا آقای عظیمی به عنوان یک شخصیت علمی با اعتبار، آقای کرزی را در امر جمع آوری زکات مطابق قانون اسلام ترغیب و تشویق نمایند، فکر می کنم، آقای عظیمی هم به عریضهٔ من، قضاوتی نفرموده اند. چونکه زکات مال فقراء و مساکین است و دولت وظیفه دارد که آن را جمع آوری و به مستحقان توزیع نماید. امروز در افغانستان، سرمایه دارانی وجود دارند که علاوه بر بلندمنزل های چندطبقه یی، سالون های مدرن عروسی و طیارات مسافربری را در اختیار دارند؛ برعلاوهٔ آن، بانک های متعددی در افغانستان

ص۳

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com